هغه څوک ایمان نه لري چې امانت نه لري او هغه څوک دین نه لري چې ژمنتیا نه لري

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې هېڅکله مور ته رسول الله صلى الله عليه وسلم خطبه نده ویلې مګر دا چې ویل به یې: «هغه څوک ایمان نه لري چې امانت نه لري او هغه څوک دین نه لري چې ژمنتیا نه لري».

[حسن لغیره دی] [احمد روایت کړی دی]

انس بن مالک رضي الله عنه خبر ورکوي چې ډېر لږ به داسې شوي وي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خطبه ویلې وي او یا یې وعظ کړی وي او د دې دوو خبرو یادونه یې نه وي کړي: لومړی: هغه څوک د بشپړ ایمان خاوند کېدلی نه شي چې په نفس کې د یو چا مال، نفس او یا یې کورنۍ ته خیانت ولري. دویم: هغه څوک بشپړ دین نه لري چې ټرونونو او ژمنو کې خیانت کوي او ماتوي یې.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66251